# تاریخ مرصع کښې ذکر شوي د سعدي شیرازي اشعار او د هغې تحقیقي او تنقیدي جائزه

# A Research and Critical Analysis of Saadi Sherazi's Poetry as Presented in Tarikh-e-Murasa

Abdul Hakim Shah Khattak [1]

The 7 Century of Hijra, is considered as the dawn of a new era of the Persian literature, when A literay genius from Sheraz, a city of Iran, infused Persian literature with his the sweetness and mellowness of his work. People know him as Sheikh Saadi. Gullistan and Bostan are the reasons for his fame in the Persian speaking communities and areas. His classical writings are also taught in educational and religious institutions of the Pashto speaking areas. Therefore, the classical Pashtun poets, writers and intellectuals have borrowed his ideas into their writings and publication, and presented his poetry as evidences for their arguments. Among these poets, writers and intellectuals, Afzal Khan Khattak, presents Shekh Sadi's verses as instances for the validation of his arguments in his book, Tareekh e Mursa. In this Paper, one can review and critically analyses works of Sheikh Sadi's as reproduced by Afzal Khan Khattak in"Tarikh -e- Murasa".

فارسي ادب کښې سعدي شیرازي د هیڅ تعارف محتاجه نۀ دے ـ تذکره نویسان او محققین د دۀ د خپل نوم په حقله اختلاف لري ـ ځینو ئې نوم شرف الدین مصلح بن عبدالله لیکلے۱ ـ ځینې ئې نوم مشرف الدین مصلح بن عبدالله شیرازي یادوي۲ ـ ځینې وائي شرف الدین او مصلح الدین ئې لقبونه دي ـ سعدي ئې تخلص دے۳ ـ په هر حال ټول محققین په دې متفق دي چې په سعدي، شیخ سعدي او سعدي شیرازي مشهور دے ـ پښتون اولس کښې هم د شیخ سعدي او سعدي شیرازي په نوم پیژندلے شي ـ د سعدي د پیدائش ،د وفات کال او د عمر په حقله هم محققین اختلاف لري ـ ځینو ئې پیدائش ٦٠٦ هجري لیکلے٤ ـ ځینې وائي ٥٧١ هجري کښې پیدا شوے ـ ځینې وائي چې ٦٩١هجري کښې د یو سل دوه کاله یا یوسل او دولس کالو په عمر کښې وفات شوے ـ ځینې ئې بیا ټول عمر شپږ شله کاله (۱۲۰) یادوي ـ ځینې ئې د وفات کال ٦٩٤هجري بیانوي٥ ـ دولتشاه

1 Lecturer GPGC Hangu Pakhtunkhwa

سمرقندي وائي چې يو سل دوه (۱۰۲) کاله عمر ئې وۀ٦ - که څۀ هم د شيخ سعدي شيرازي د نوم، د پيدائش ، د وفات او د عمر په باب محققين اختلاف لري ، په بدني توګه د دنيا نه تلے دے خو په روحاني توګه ئې د خپلو تصنيفاتو په سبب حيات بعد الممات په برخه رسيدلے دے - د دۀ تصنيفات د فارسي ادب د يو څو هغه تصنيفاتو نه دي کومو چې دوامي شهرت موندلے دے - چرته چې هم فارسي وئيلے شي يا وئيلاے شوه ، هلته سعدي شيرازي د " کريما "، " ګلستان " او " بوستان " له کبله خامخا پيژندے شي - د پښتنو په دغه سيمه هم د ډيرې مودې نه د دۀ مذکوره تصنيفات په مکتبونو او جوماتونو کښې درسي لوستلے شول - هم دغه وجه ده چې زمونږ د ادب کلاسيکي دورې شاعرانو ، اديبانو او پوهانو د ګلستان ترجمې او شرحې کړې دي - په خپلو تصنيفاتو او تاليفاتو کښې د دۀ افکارو نه استفاده کړې ده او هم ئې د دۀ شعرونه د دليل په توګه راوړي دي -

د دغه شاعرانو، اديبانو او پوهانو نه يو افضل خان خټک هم دے - افضل خان خټک د اشرف خان زوے او خوشحال خان نمسے دے - دۀ په خپل کتاب " تاريخ مرصع " کښې د سعدي شيرازي شعرونه د دليل په توګه راوړي - " تاريخ مرصع " د افضل خان خټک داسې کتاب دے چې څۀ حصه ئې د نعمت الله هروي د کتاب " تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني " ترجمه ده - څۀ حصه ئې د خپل نيکۀ خوشحال خان د بياض نه رانقل کړې ده - څۀ ئې د خپل دور حالات ليکلي - د " تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني " د ترجمې په حقله په ديباچه کښې ليکي:

> " مدت متمادي وشۀ چې په خاطر فاتر به رسيدل چې يو کتاب له فارسۍ ژبې په پښتو ژبه ترجمه کړم چې په پښتنو ئې لوستل اسان وي - فکر مې وکړ چې هيڅ تواريخ د دې قوم په ژبه نشته - هم دا تواريخ مې د پښتنو د بادشاهانو له فارسۍ نه چې په وخت د جهانګيربادشاه د خان جهان لودي په حکم چې د فرزندخان په خطاب سرفراز وۀ ، خواجه نعمت الله هروي کړے وۀ ترجمه کړ٧ "

په دې ليک کښې د سعدي شيرازي د تصنيفاتو له مخه د هغه شعرونو تحقيقي او تنقيدي جاج اخستے شي کوم چې افضل خان خټک په " تاريخ مرصع " کښې راوړي دي -

یاده دې وي چې په دې لیک کښې د " تاریخ مرصع " د هغه نسخې نه استفاده شوې ده کومه چې دوست محمدخان کامل مومند مرتب کړې ده - مقابله ، تصحیح او نوټونه ئې پرې لیکلي دي - دا نسخه د یونیورسټي بک ایجنسي پېښور نه مئ ۲۰۰٦ء کښې د جدون پرېس پېښور نه چاپ ده - د شیخ سعدي شیرازي د کلام هغه چاپ نسخه په کار راوستې شوې ده کومه چې د محمدعلي فروغي په تصحیح د " کلیات سعدي "په نوم د انتشارات هرمس تهران نه ۱۳۸۵ق کښې چاپ ده - په دې کلیاتو کښې د سعدي گلستان، بوستان، غزلیات، قطعات او ځینې نور منظوم او منثورکلام شامل دے - اوس د شعرونو تحقیقي او تنقیدي جاج ته پام راګرځوو :

.1 تاریخ مرصع مخ ۷۳ :

جز به خردمند مفرما عمل
گرچه عمل کار خردمندنیست

افضل خان په خپله د دغه شعر وضاحت نۀ دے کړے چې دا شعر د چا دے - دا شعر د سعدي په گلستان کښې په اتم باب دراداب صحبت کښې په ۲۷۳مخ هم په دغه الفاظو راغلے دے-

.2 تاریخ مرصع مخ ۷۳ :

به قومے که نیکی پسندد خدای
دهد حاکمی عادل و نیک رای
چو خواهد که ویران کند عالمے
نهد ملک در پنجۀ ظالمی

افضل خان په خپله د شاعر په حواله د دې شعرونو څۀ وضاحت نۀ دے کړے - دا شعرونه د سعدي د بوستان شعرونه دي - په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې په مذکوره کلیاتو کښې په ۳۳۵مخ داسې لیکلي چې د اول شعر په دوېمه مصرعه کښې د "حاکمی " په ځائے "خسروی "، د دویم شعر په اوله مصرعه کښې د " کند " په ځائے "شود "، د دوېمې مصرعې "نهد "په ځائے " کند " لیکلي -

.3 تاریخ مرصع مخ ۷٤ :

توان شناخت بیک روز در شمائل مرد
که تا کجاش رسیده ست پایگاه علوم
ولے زباطنش ایمن مباش غره مشو
که خبث نفس نگردد بسالها معلوم

افضل خان خټک د دې شعرونو شاعر نۀ دے یاد کړے - دا شعرونه هم په دغه الفاظو د سعدي په ګلستان کښې په اتم باب درداب صحبت کښې کلیات سعدي کښې په ۲۸۳مخ راغلي دي-

4. تاریخ مرصع مخ ۷۴ :

بخردان مفرمای کارِ درشت
که سندان نشاید شکستن به مشت
چو یوسف کسی درصلاح و تمیز
بسی سال باید که گردد عزیز

دا شعرونه د سعدي د بوستان شعرونه دي - افضل خان خټک ئې د شاعر په حقله څۀ وضاحت نۀ دے کړے - مولف دغه شعرونه دلته د مثنوي تر سرخط لاندې په یو ځائے راوړي چې د یو ځائے د شعرونو ګمان پرې کېږي - اصل کښې دا دواړه شعرونه په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې په بېلا بېلو ځایونو کښې راغلي - دلته وړومبے شعر په کلیات سعدي د بوستان په برخه کښې کلیاتِ سعدي کښې په۳۵۱مخ راغلے - دوېم شعر په ۳۲۲مخ کښې داسې لیکلے چې د دوېمې مصرعې "بسی سال "په ځائے "به یک سال " لیکلي -

5. تاریخ مرصع مخ ۷۵ :

گاه باشد که کودک نادان
به غلط برهدف زند تیری

صاحب تاریخ مرصع د دې شعر د شاعر څهٔ وضاحت نهٔ دے کړے ـ دا شعر د ګلستان په دریم باب درفضیلت قناعت کښې په کلیاتِ سعدي کښې په ۱۷۱مخ راغلے دے ـ د " کودک " په ځائے " کودکی " لیکلي ـ

.6 تاریخ مرصع مخ ۷۹ :

برو بر دل از جور غم بارها
که ناازموده کند کارها

افضل خان د دې شعر شاعر نهٔ دے یاد کړے ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ په کلیاتو کښې په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې کلیاتِ سعدي کښې په ۳۲۱ مخ داسې لیکلے چې د "برو" په ځائے " برد " لیکلي ـ

.7 تاریخ مرصع مخ ۷۹ :

سپاهي که خوشدل نباشد زشاه
ندارد حدود ولایت نگاه
برکشتن آنکه باز و شاهین است
تعجیل مکن اگرچه خونین است

افضل خان خټک د دې شعرونو په خپله وضاحت نهٔ دے کړے چې دا شعرونه د چا دي؟ دا دواړه شعرونه ئې په یو ځائے راوړي ـ په دې کښې وړومبے شعر د سعدي شیرازي دے ـ په کلیاتو کښې په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې هم په دغه الفاظو په ۳۲۷ مخ لیکلے ـ

.8 تاریخ مرصع مخ ۸۱ :

مرد خرد مند هنر پیشه را
عمر دو بایست درین روزگار
تابه یکی تجربه اموختی
با دگری تجربه بردی به کار

افضل خان د دې شعرونو د شاعر وضاحت نهٔ کوي ـ دا شعرونه په لغتنامه کښې د شېخ سعدي یادکړي شوي دي ـ د " خردمند " د لغت په معنې کښې ئې دغه قطعه راوړې ده ـ خو دویم بېت ئې داسې لیکلے دے:

جز به خردمند مفرما عمل
گرچه عمل کار خردمندنیست۸

9. تاریخ مرصع مخ ۱٦۱ :

قضا کشتي آنجا که خواهد بَرَد
وگر ناخدا جامه برتن درَد

افضل خان دا شعر په تاریخ مرصع کښې دویم واري په ٤٥۲ مخ هم راوړے دے ـ دلته ئې د شاعر وضاحت کړے ـ په دوېم وار ئې څهٔ وضاحت نهٔ دے کړے ـ دا شعر د سعدي شیرازي د بوستان په پینځم باب دررضا کښې د کلیات سعدي په ٤۳٦ مخ هم دغه الفاظو راغلے دے ـ

10. تاریخ مرصع مخ ۱٦٤ :

دلاور که باری تهور نمود
بباید به مقدارش اندر فزود
که بار دگر دل نهد برهلاک
ندارد زپیکار یاجوج باک

دا شعرونه په خپله افضل خان د سعدي یاد کړي ـ دا شعرونه هم په دغه الفاظو په کلیات سعدي کښې د بوستان په برخه کښې په اول باب در عدل و تدبیر رای کښې په ۳٥۱ مخ لیکلي ـ

11. تاریخ مرصع مخ ۱۷۰ :

بد اندیش بر خُرده چون دست یافت
درون بزرگان به آتش بتافت
به خرده توان آتش افروختن
پس آنگه درخت کهن سوختن

د دې شعرونو ورومبے شعر افضل خان خټک په تاریخ مرصع کښې په دویم وار ۵٦۲ مخ کښې راوړے دے ـ دلته ئې د دې شاعر سعدي شیرازي یاد کړے ـ په دویم وار پېښ کولو کښې ئې څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ هلته ئې په ورومبي مصرعه کښې د"بر خُرده " په ځائے"برگفت " لیکلي ـ "برگفت " ټکے غلط دے ـ " برخُرده " صحیح دے دا شعرونه اصل کښې د سعدي په بوستان کښې په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې راغلي ـ په کلیاتِ سعدي کښې په ۳۲۳ مخ هم په دغه الفاظو لیکلي ـ

12. تاریخ مرصع مخ ۱۸٤:

علاج واقعه پیش از وقوع باید کرد
دریغ سود ندارد چو کار رفت از دست

افضل خان خټک د دې شعر د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ په دوېم واري ئې په ۵۰۹ مخ هم لیکلے دے ـ هلته ئې هم د شاعر په حواله څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دا شعر هم په دغه الفاظو په کلیاتِ سعدي کښې د قطعاتو تر سرلیک لاندې په ۱۰۵۵مخ لیکلے دے ـ

13. تاریخ مرصع مخ ۱۹٤ :

چه خوش گفت یکتاش بافیل تاش
چو دشمن خراشیدي ایمن باش

دا شعر د سعدي په گلستان کښې لیکلے دے ـ افضل خان په خپله دا شعر د مصلح الدین شیرازي یاد کړے ـ د الفاظو په لږ فرق کلیاتِ سعدي کښې په ۱٦۷مخ داسې لیکلے چې د ورومبۍ مصرعې " یکتاش بافیل " په ځائے په کښې " بگتاش باخیل" لیکلي ـ

14. تاریخ مرصع مخ ۲۰۲ :

چو بیني که یاران نباشند یار
هزیمت ز میدان غنیمت شمار

افضل خان په خپله دغه شعر د سعدي یاد کړے دے ـ دا شعر کلیاتِ سعدي کښې په ۳۵۲ مخ د بوستان په برخه کښې په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې هم په دغه الفاظو لیکلے دے ـ

.15 تاریخ مرصع مخ ۲۰۲ :

حکمت محض است اگر لطف جهان افرین
خاص کند بنده ای مصلحت عام را

دا د سعدي د گلستان شعر دے ـ افضل خان خټک په خپله د دې دا وضاحت کړے چې شیخ سعدي شیرازي فرمائیلي دي ـ په کلیاتِ سعدي کښې په ۱۲ مخ هم په دغه الفاظو لیکلے ـ

.16 تاریخ مرصع مخ ۲۱۳ :

بر آرند روئین ز پائے
جوانان به شمشیر و پیران برائے

افضل خان د دې شعر د شاعر وضاحت په خپله کړے دے چې شیخ مصلح الدین سعدي فرمائي ـ دا شعر د سعدي په بوستان کښې په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې راغلے ـ په کلیاتِ سعدي کښې ۳۵۰مخ داسې لیکلے چې د وړومبے مصرعې اصل ټکي ئې " در آرند بنیاد رویین ز پای " دي ـ په دویمه مصرعه کښې د "شمشیر" په ځائے "نیروی " لیکلي ـ

.17 تاریخ مرصع مخ ۲۱۷ :

سر پر غرور از تحمل تهی
حرامش بور تاج شهنشهی

افضل خان په خپله دا وضاحت کړے دے چې شیخ مصلح الدین سعدي فرمائي ـ دا شعر د سعدي په بوستان کښې په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې راغلے دے ـ په کلیاتِ سعدي کښې په ۳۲۶مخ داسې لیکلے چې د"بور " په ځائے "بود " لیکلي ـ دا بور د کتابت غلطي ښکاري ـ

.18 تاریخ مرصع مخ ۲۲٤ :

من آنچه شرط بلاغ است با تومي گویم
تو خواه از سخنم پند گیر و خواه ملال

صاحب تاریخ مرصع د دې شعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا شعر د سعدي د قصیدو شعر دے ـ د کلیاتو په ۹۷۰مخ هم په دغه الفاظو لیکلے دے ـ

19. تاریخ مرصع مخ ۲۲۵ :

جهان اے پسر ملک جاوید نیست
ز دنیا وفاداري امید نیست
نه برباد رفتی سحرگاه و شام
سریر سلیمان علیه السلام
به آخر ندیدی که برباد رفت
خُنُک آنکه باداںش و داد رفت

افضل خان دا شعرونه په تاریخ مرصع دوه ځله راوړي دي ۔ یو په ۲۲۵ مخ او بل په ٤٤٧ مخ ۔ دلته ئې په خپله دا شعرونه د سعدي شیرازي یاد کړي ۔ اصل کښې دا د سعدي د بوستان شعرونه دي ۔ په کلیاتِ سعدي کښې هم په دغه الفاظو په ۳٤۱ مخ لیکلي دي ۔

20. تاریخ مرصع مخ ۲۳۵ :

به قول دشمن پیمان دوست بگشتی
ببین که از که بریدي و با که پیوستی

مولف تاریخ مرصع د دې شاعر دا وضاحت نۀ دے کړے چې د چا شعر دے ۔ دا د سعدي د ګلستان شعر دے ۔ په اتم باب درصحبت کښې راغلے دے ۔ په کلیاتِ سعدي کښې په ۲۸۸ مخ داسې لیکلے چې د "بگشتی" په ځائے "بشکستی" لیکلي ۔

21. تاریخ مرصع مخ ۲٤۹ :

نه مردیست دشمن در اسباب جنگ
تو مدهوش ساقی و اواز چنگ

افضل خان په خپله دا شعر د سعدي یاد کړے دے ۔ دا د سعدي د کتاب بوستان شعر دے ۔ په اول باب درعدل و تدبیر رای کښې د کلیاتِ سعدي په ۳۵۲مخ لیکلے دے ۔

22. تاریخ مرصع مخ ۲۲۵ :

محال است سعدي که راه صفا

توان رفت جز برپی مصطفٰی

افضل خان د دې شعر وضاحت نۀ دے کړے چې د چا دے ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ د سعدي په بوستان کښې هم په دغه الفاظو ليکلے دے۹ ـ خو په کلياتِ سعدي کښې په ۳۰۷ مخ داسې ليکلے چې د " محال است " په ځائے "مپندار" ليکلي دي ـ

23. تاريخ مرصع مخ ۲۹۹ :

رعيت نوازی و سر لشکری
نه کاری ست بازيچه و سرسری

مولف تاريخ مرصع د دې شعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ په اول باب در عدل و تدبير رای کښې ليکلے ـ په کلياتِ سعدي کښې په ۳۵۱مخ هم په دغه الفاظو ليکلے دے ـ

24. تاريخ مرصع مخ ۲۲۵ :

پلنگانش از زور سر پنجه زير
فرو برده چنگال در مغز شير

افضل خان د دې شعر د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا شعر د سعدي د بوستان شعر دے ـ پنځم باب در رضا کښې ليکلے ـ په کلياتِ سعدي کښې هم په دغه الفاظو په ۴۲۸مخ ليکلے دے ـ

25. تاريخ مرصع مخ ۳۰۸ :

بس صورت خوش که زير چادر باشد
چون باز کني مادر مادر باشد

افضل د دې شعر د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا د سعدي په گلستان کښې په اتم باب درآداب صحبت کښې ليکلے دے ـ په کلياتِ سعدي کښې په ۲۸۲مخ داسې ليکلے چې د "صورت" په ځائے " قامت " ليکلي دي ـ

26. تاريخ مرصع مخ ۳۰۹ :

چو دستت رسد مغز دشمن بر آر
که فرصت فرو شوید از دل غبار

افضل خان د دې شعر څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ څلورم باب در تواضع کښې لیکلے دے ـ په کلیاتِ سعدي کښې هم په دغه الفاظو په ٤٠٩ مخ لیکلے دے ـ

27. تاریخ مرصع مخ ٣٤٨:

چو بخشش نگون بود درکاف کن
نه کرد آنچه نیکانش گفتند کن

صاحب تاریخ مرصع د دې شعر د شاعر څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دا شعر د سعدي د بوستان شعر دے ـ اول باب در عدل و تدبیر رای کښې لیکلے ـ په کلیاتِ سعدي کښې هم په دغه الفاظو په ٣٣٦ مخ لیکلے دے ـ

28. تاریخ مرصع مخ ٣٦٦:

بدان رانیک دارای مرد هوشیار

افضل خان د دې مصرعې د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا مصرعه د سعدي د گلستان ده ـ د گلستان په اتم باب در آداب صحبت کښې لیکلے دے ـ په کلیاتِ سعدي کښې په ۲۹۹مخ لیکلے دے ـ پوره شعر داسې دے :

بدان رانیک دارای مرد هوشیار
نه کرد آنچه نیکانش گفتند کن

29. تاریخ مرصع مخ ٤١٥:

سفله چو جاه آمد و سیم و زرش
سیلی خواهد بضرورت سرش
آن نشنیدي که فلاطون چه گفت
مور همان با که نباشد پرش

افضل خان د دې شعر څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ افضل خان دا شعرونه دويم ځل په تاريخ مرصع کښې په ٤٥٦ مخ هم راوړي دي ـ دا د سعدي د گلستان شعرونه دي ـ په دريم باب درفضيلت قناعت کښې ئې ليکلي ـ په کلياتِ سعدي کښې په ١٤٩مخ داسې ليکلي چې د "سفله " په ځاے "بنده " ليکلي ـ خو د گلستان په ځينو نسخو کښې هم "سفله١٠ "ټکے راغلے دے ـ کيدے شي کومه نسخه چې افضل خان کتلے وي په هغې کښې هم " سفله " ټکے ليکلے وي ـ کومه نسخه چې د داکتر محمد جواد مشکور په انضمام او اهتمام چاپ ده او بله يوه نسخه چې د ډاکټر خليل خطيب رهبر په کوشش چاپ ده ، په دې دواړو نسخو کښې هم د " سفله " په ځاے "بنده١١ "ټکے ليکلے ـ

.30 تاريخ مرصع مخ ٤٣٨:

نه شمشير کين آوران کند بود
که کين آوري ز اختر تند بود
کس از لشکر ما زهيجا برون
نيامد جز آغشته خفتان به خون
چو صد دانه مجموعه در خوشۀ
فتاديم يک يک بهر گوشۀ

افضل خان د دې شعرونه د شاعر څۀ وضاحت نۀ دے کړے ـ دا شعرونه د سعدي د بوستان شعرونه دي ـ پنځم باب در رضا کښې ليکلي ـ کلياتِ سعدي کښې په ٤٣١ مخ ليکلي ـ هلته د دې شعرونو د اخري شعر الفاظ داسې دي :

چو صد دانه مجموع در خوشه اى
فتاديم هر دانه اى گوشه اى

.31 تاريخ مرصع مخ ٤٤٧:

آن کس که توانگرت نمى گرداند
او مصلحت تو از تو بِه ميداند

افضل خان د دې شاعر نۀ يادوي ـ د سعدي د ګلستان شعر دے ـ په دريم باب در فضيلت قناعت کښې راغلے دے ـ په کلياتِ سعدي کښې په ۱٤۹مخ داسې ليکلے چې د دوېمې مصرعې تو ” تو بِه ميداند “په ځاے ” تو بهتر داند “ ليکلي ـ البته اوغلي علي يف چې د ګلستان کوم انتقادي متن تيار کړے دے ـ د هغې په تحشيه کښې د ”بِه ميداند۱۲ “ليکلي چې دا ترې څرګندېږي چې په يو نسخه کښې ”بِه ميداند “ هم راغلي ـ په دې وجه دا ممکنه ده چې د تاريخ مرصع مولف داسې نسخه کتلې وي چې په هغې کښې ”بِه ميداند “ ليکلي وي ـ

32. تاريخ مرصع مخ ٤٤۸:

شنيدم که جمشيد فرخ سرشت
بس چشمه آمدبسنگی نوشت
بدين چشمه چون ما بسی دم زدند
برفتند چون چشم برهم زدند

افضل خان د دې شعرونو د شاعر ياودنه نۀ کوي ـ دا د سعدي د بوستان شعرونه دي ـ په اول باب درعدل و تدبير رای کښې راغلي دي ـ کلياتِ سعدي کښې په ۳۲۷مخ داسې ليکلي چې د ورومبي شعر د دوېمې مصرعې الفاظ داسې دي:

” به سر چشمه ای بر به سنگی نوشت “

د دوېم شعر د ورومبۍ مصرعې د ” بدين “ په ځاے ”بر اين “ ليکلي دي ـ

33. تاريخ مرصع مخ ٤٤۸:

که با کينه ور مهربانی خطاست

د دې مصرعې د شاعر وضاحت افضل خان نۀ کوي ـ دا د سعدي د بوستان د يو شعر دوېمه مصرعه ده ـ کلياتِ سعدي کښې په ۳۵۰مخ ليکلې ده ـ پوره شعر داسې دے :

توهم جنگ راباش چون کينه خواست
که با کينه ور مهربانی خطاست

34. تاريخ مرصع مخ ٤٤۸:

عاقبت گرگ زاده گرگ شود
گرچه با آدمي بزرگ شود

افضل خان خټک د دې شعر، شاعر نۀ ښئي ـ دا شعر د سعدي د گلستان شعر دے ـ هم په دغه الفاظو کلیاتِ سعدي کښې په ٢٤ مخ لیکلے دے ـ

35. تاریخ مرصع مخ ٤٤٨:

چنین است گردیدن روزگار
سبک سیر و بد عهد وناپایدار
چو دیرینه روزی سر آرد ز عهد
جوان دولتی سر بر آرد ز مهد

افضل خان د دې شعرونو د شاعر په حقله څۀ وضاحت نۀ کوي ـ دا شعرونه د سعدي د بوستان شعرونه دي ـ په اول باب در عدل و تدبیر رای کښې راغلي ـ کلیاتِ سعدي کښې په ٣٤٢ مخ داسې لیکلي چې د دویم شعر په وړومبۍ مصرعه کښې د" سر آرد ز عهد " په ځائے " سر آورد عهد " ټکي لیکلي ـ

36. تاریخ مرصع مخ ٤٤٨:

زبلیس هرگز نیاید سجود
نه از بدگهر نیکویی در وجود

صاحبِ تاریخ مرصع د دې شعر د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ د سعدي د بوستان شعر دے ـ په دویم باب در احسان کښې راغلے دے ـ کلیاتِ سعدي کښې په ٣٧٩ مخ داسې لیکلے چې د " زبلیس " زبلیس پوره املاء " از ابلیس " ئې لیکلې ده ـ

37. تاریخ مرصع مخ ٤٥٧:

چو باسفله گویی به لطف و خوشي
فزون گردش کبر و گردن کشی

افضل خان خټک د دې شعر د شاعر په حقله څۀ وضاحت نۀ کوي ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ په اول باب در عدل و تدبیر رای کښې راغلے دے ـ کلیاتِ سعدي کښې په ۳۵۰ مخ داسې لیکلے چې د " گردش " په ځائے " گرد دش " لیکلي ـ

38. تاریخ مرصع مخ ٥٤٢:

که خوی بدش دشمنی درقفاست

افضل خان د دې مصرعې د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا د سعدي د بوستان د یو شعر دوېمه مصرعه ده ـ کلیاتِ سعدي کښې په ۳۱۹مخ لیکلې ده ـ د دې مصرعې اصل الفاظ او پوره شعر داسې دے ـ

تو گر خشم بر وی نگیری رواست

که خود خوی بد دشمنش درقفاست

39. تاریخ مرصع مخ ٤٦٠:

که گر رستم از دست این تیرزن

من و موس و ویرانۀ پیر زن

صاحبِ تاریخ مرصع دلته د دې بېت شاعر نۀ دے یاد کړے ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ په شپږم باب درقناعت کښې راغلے دے ـ کلیاتِ سعدي کښې په ٤٤٦مخ داسې لیکلے چې د ورومبۍ مصرعې " که گر رستم " په ځائے " اگر جستم " لیکلي او د دوېمې مصرعې د "موس " په ځائے "موش " لیکلي ـ

40. تاریخ مرصع مخ ٦١٣:

تعلق حجاب است و بی حاصلی

چو پیوندها بگسلی واصلی

افضل خان خټک د دې شعر د شاعر په حقله څۀ وضاحت نۀ کوي ـ دا د سعدي د بوستان شعر دے ـ په دریم باب در عشق و مستي و شور کښې راغلے دے ـ کلیات سعدي هم دغه الفاظو په ۳۹۷ مخ لیکلے دے ـ

41. تاريخ مرصع مخ ٦١٧:

که مردان ز خدمت بجای رسند

افضل خان د دې مصرعې د شاعر وضاحت نۀ کوي ـ دا د سعدي د بوستان د څلورم باب د يو شعر دوېمه مصرعه ده ـ کلياتِ سعدي کښې په ٤٠٤ مخ ليکلې ده ـ پوره شعر داسې دے :

ندانستی ای کودک خود پسند

که مردان ز خدمت به جای رسند

42. تاريخ مرصع مخ ٦٢٠:

چه داني که شوريده حالان مست

چرا برفشانند بر رقص دست

کشايد دری بر دل از واردات

فشانند سر دست بر کائنات

برقص اندر آينه دو لاب وار

چو دو لاب برخود بگيرند زار

افضل خان د دې شعرونه د شاعر وضاحت نۀ دے کړے ـ دا د سعدي د بوستان شعرونه دي ـ په دريم باب در عشق و مستي و شور کښې په بيلا بيلو ځايونو کښې راغلي ـ د دې شعرونو دلته آخري شعر بوستان کښې وړومبے راغلے ـ کلياتِ سعدي کښې اول دوه شعرونه په ۳۹۷ او وروستې دريم شعر ۳۹۶ مخ ليکلے دے ـ د وړومبي شعر د وړومبۍ مصرعې "چه دانی " په ځائے " نداني "، په دوېمه مصرعه کښې د "بر رقص" په ځائے " در رقص " ليکلي ـ د دوېم شعر په دوېمه مصرعه کښې "فشانند " په ځائے "فشاند " ليکلي ـ د دريم شعر په وړومبۍ مصرعه کښې د "برقص اندر آينه " په ځائے " به چرخ اندر آيند " او د دوېمې مصرعې " بگيرند " په ځائے " بگريند " ليکلي ـ البته تحفه دوستان اردو شرح بوستان کښې " برقص اندر آيند۱۳ "ليکلي ـ د دې نه دا څرګندېږي چې د بوستان په ځينې نسخو کښې "برقص" راغلي ـ کېدے شي افضل خان خټک چې د بوستان کومه نسخه کتلې وي ، په هغې کښې " برقص " ليکلي وي ـ

**نتیجه**

په آخره کښې د دې تحقیقي او تنقیدي لیک نه پس دې نتیجې ته رسو چې افضل خان خټک په خپل کتاب " تاریخ مرصع " کښې د سعدي شیرازي ۵۳ شعرونه او ٤ مصرعې د دلیل په توګه پیش کړې دي ـ په دې ۵۳ شعرونو کښې ۳۷ شعرونه د بوستان، ۱۲ شعرونه د ګلستان دي ـ یو شعر د قطعاتو او یو شعر د قصائدو نه دے ـ دوه شعرونه داسې دي چې د سعدي په کلیاتو کښې پیدا نهٔ شول خو د علي اکبر دهخدا په کتاب لغت نامه کښې سعدي ته منسوب دي ـ

په دې ۵۳ شعرونو کښې افضل خان خټک په خپله ۱۳ شعرونه د سعدي شیرازي یاد کړي ـ ۱۷ شعرونه په کښې داسې دي چې د هغې په الفاظو کښې غلطي او تېروتنه نشته ـ ٤ مصرعو کښې ۳ مصرعې د بوستان او یوه مصرعه د ګلستان ده ـ په ځ لور وارړو مصرعو کښې د یوې مصرعې په الفاظو کښې غلطي او تېروتنه شته ـ په دې کښې ځینې داسې شعرونه هم شته چې د هغې په الفاظو کښې د سعدي د تصنیفاتو په چاپ نسخو کښې هم یو تر بله فرق شته ـ

**ماخذونه**


۱: ګوپاموي، محمدقدرت الله، تذکره نتائج الافکار، چاپخانه سلطاني بمبي نمبر۳،پنځلسم چاپ۱۳۳٦ه، مخ ۳۱۸

۲: حسن صدر حاج سید جوادي او حسن انوري ،فارسي و تاریخ ادبیات،موافقت وزارت آموزش و پرورش، تهران، چاپ دوم ۱۳۵۳، مخ ۱۰-

۳: مدرس تبریزي، محمدعلي،علامه، ریحانة الادب، جلدسوم،انتشارات خیام، چاپخانه حیدري، ۱۳۷٤،مخ ۳۳

۴: کاظم طلایي او د دهٔ ملګري، فرهنګ نامه ی نام آوران، نشر طلایي، تهران، چاپ سوم، تیر ۱۳۹۰،مخ ۱۷٦-

۵: مدرس تبریزي، محمدعلي،علامه، ریحانة الادب، جلدسوم، مخ ۳٤-

۶: سمرقندي، دولتشاه، تذکرة الشعراء، به اهتمام و تصحیح، اډورډ براؤن،انتشارات امیر، تهران،۱۳۸۲، مخ ۲۰۳

۷: خټک،افضل خان ، تاریخ مرصع، مقابله،تصحیح او نوټونه: دوست محمدکامل مومند،یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور،مئ ۲۰۰٦،مخونه ۸۱،۸۰ ـ

۸: دهخدا،علي اکبر،لغتنامه،جلد۷، انتشارات دانشګاه،تهران،چاپ دوم از دوره جدید،۱۳۷۷ش، مخ۹٦۷٤

۹: سعدي،مصلح الدین،شیرازي،بوستان(سعدي نامه)،تصحیح و توضیح:دکترغلام محسین یوسفي،ناشرانجمن استادان زبان و ادبیات فارسي،چاپ اول۱۳۵۹،مخ٤-

۱۰: الف: سعدي،ګلستان سعدي،تصحیح متن علمي انتقادي:رستم موسی اوغلي علي یف،اداره نشریات،خاور،مسکو،۱۹۵۹ء، مخ۲۲۵- ب: سعدي،مصلح الدين ،ګلستان،اضافه وحواشي،مولانانقيب احمد،تاج محل کمپني،محله جنګي قصه خواني بازار پېښور،مخ۱۶۵-

۱۱: الف: سعدي، شرف الدين مصلح بن عبدالله ،ګلستان، بکوشش: دکترخليل خطيب رهبر، انتشارات صفي عليشاه،یولسم چاپ ۱۳۷۴،مخ۲۶۲- ب: سعدي، ګلستان سعدي، مصحح: دکتر محمد جواد مشکور، ناشر،حاج محمد حسين مشکور، خردادماه۱۳۴۲،مخ ۹۹-

۱۲: سعدي،ګلستان سعدي،تصحیح متن علمي انتقادي:رستم موسی اوغلي علي یف،اداره نشریات،خاور،مسکو، ۱۹۵۹ء، مخ۲۲۶-

۱۳: سعدي،مصلح الدين،بوستان،تحفه دوستان اردوشرح بوستان،مولانامحمدابوبکرقاسمي،کتب خانه مجيديه ملتان،مخ ۲۳۷-